**بسم الله الرحمن الرحيم**

**دوهم عرب پسرلی**

شمالي افريقا د عرب پسرلي د پيل ټکی و، چې په پايله کې د اونيو لاريونونو په ترڅ کې اوږد مهاله ديکتاتوران را وپرځېدل. د ۲۰۱۱م په پيل کې ډېری د عرب پسرلي د پايلې په تړاو زړه نازړه وو. تونس کې واک له پخواني رژيم څخه د نهضت گوند ته انتقال شو چې نوموړی د اسلامي نظام راتګ ته هيله مند نه و او نن ورځ ښی لاسی بن علي بياځلې په واک کې دی. په مصر کې اخوان المسلمين اسلامي نظام تاسيس نه کړ، عامه رايه يې پر خلاف او ناکامي يې په برخه شوه او په پايله کې د پوځي کودتا لامل شوه او پوځ بياځلې واک ته ورسېد. يمن، سوريه او ليبيا د بهرنيو جګړو او لاسوهنو له امله ويجاړ شول. اوس مهال شمالي افريقا يوځلې بيا د ډېرو لاريونونو شاهده ده، چې لاريونوال د واقعي بدلون غوښتوونکي دي او د هغو ديکتاتورانو چې هيواد يې لوټ کړی، د گوښه کېدو غوښتنه کوي.

په ۲۰۱۱م کې په سوډان او الجزاير کې خلک لارو کوڅو ته راووتل او د بدلون غوښتنه يې کوله، خو په دواړو هيوادونو کې لاريونونه په محدود شمېر کې وو، خو په سوډان کې لاريونوال له ځپوونکي حالت سره مخ شول. په تېر عرب پسرلي کې شته نظامونه د پوځي مشرانو پر مټ وساتل شوه او يوازې څېرې بدلې شوې. اوس مهال په ۲۰۱۹م کې داسې ښکاري چې له تېر عرب پسرلي څخه درسونه اخيستل شوي دي.

الجزاير په افريقا کې د مساحت له اړخه دويم لوی او ګڼ نفوس لرونکی هيواد دی او همدارنګه له شپږو عربي صحراوو سره پوله لري. دا هيواد د انرژۍ ارزښتمنې سرچينې لري چې له لسيزو راهيسې جنوبي اروپا ته صادرېږي او همداراز د مديترانې سمندرګي له لارې لوېديځې اروپا ته هم صادرېږي. خو له دې ټولو ګټو سره سره بيا هم الجزاير د پوځ په ولکه کې دی او د دغه هيواد شتمني يې منحصره کړې ده. د الجزاير پرله پسې حکومتونو د انرژۍ سرچينې د شخصي ګټو لپاره کارولې دي او خلک له فقر او غربت څخه ځورېږي، په داسې حال کې چې د دې هيواد له ۴۰ مېليوني نفوس څخه ۱۲ ميليونه يې په بې وزلۍ کې ژوند کوي. اوږد مهاله ديکتاتور عبدالعزيز بوتفليقه په ۲۰۰۸م کې په اساسي قانون کې تعديل راووست چې د ولسمشرۍ دوې دورې يې تر څلورو دورو پورې وغځولې. د ۲۰۱۳م له لاريون وروسته نوموړی په عام محضر کې نه دی ليدل شوی، خو د ۲۰۱۹ د مارچ په مياشت کې يې د ۲۰۱۹ د اپريل لپاره خپل د کانديدېدو ټکټ په رسمي توګه اعلان کړ. خلکو بله لاره نه لرله پرته له دې چې لارو او کوڅو ته راووځي او په لاريون پيل وکړي او په دې سره شمېر نور هم لوړ شو.

په سوډان کې عمر بشير د خپلو شخصي ګټو لپاره د قومي توپيرونو څخه ډېر وخت ګټه اخيستله، ترڅو د واکمنۍ پر خلاف يې يو ګډ اپوزيسيون جوړ نه شي. بشير ټول امريکايي پروګرامونه د سويلي سوډان د بېلېدو په ګډون مخ ته يووړل. امريکا بشير ته کله مکافات او کله مجازات ورکول، ترڅو يې په واک کې وساتي. سره له دې چې په سوډان کې ګڼ شمېر طبيعي سرچينې او کانونه شته، خو وګړي يې په بې وزلۍ کې ژوند کوي. خو د سويلي سوډان د محاصرې له امله د تېلو ساحې هم اغېزمنې شوي دي او هغه هوکړه چې له تېلو څخه به په ګډه کار اخلي د سويلي سوډان د بېلېدو له امله لغوه شوه. په ۲۰۱۸م کې حکومت هڅه وکړه چې ناوړه اقتصادي حالت پټ کړي، سره له دې چې امريکا بنديزونه لرې کړه. خو د پولي واحدونو د کمښت له امله د ډوډۍ بيه لوړه او انفلاسيون مخ په زياتېدو شول او آن له کنترول ووتل. حکومت هڅه کوله چې خلکو ته د ستونزې حلاره ور په ګوته کړي، خو حالت نور هم له بدو بدتره شو. د ۲۰۱۸م په ډيسمبر

کې د سوډان په بېلابېلو ښارونو کې خلکو د نرخونو د لوړوالي له امله لاریونونه ترسره کړل. لاریونوالو د اقتصادي اصلاحاتو پرځای د عمر بشیر پر لېرې کېدو ټینګار کاوه. د ۲۰۱۹م په فبرورۍ کې عمر بشیر بېړنی حالت اعلان کړ، مرکزي او محلي حکومتونه یې منحل کړل او د دوی پرځای یې پوځي او استخباراتي ادارو ته دنده ورکړه. دې ته په غبرګون کې لاریونونه نور هم پسې پراخ شول.

په الجزایر او سوډان دواړو کې د یادو هیوادونو پوځونو اقدام وکړ او چارواکي یې له دندو لیرې کړل، ترڅو لاریونوال ارام کړي. په الجزایر کې لوی درستیز احمد ګاید صالح ولسمشر ګوښه کړ او ویې ویل چې د روغتیایي ستونزو له امله دی نوره خپله دنده مخ ته نشي وړلی. په داسې حال کې چې په سوډان کې د ۲۰۱۹م د اپریل پر ۱۲ مه د سوډان د انتقالي پوځي شورا مشر عوض ابن عوف د عمر بشیر استعفا اعلان کړه. په دواړو حالاتو کې پوځونو هغه له کاره لوېدلي مشران لېرې کړل، ترڅو لاریونوالو ته وښیي چې پوځونه له دوی سره دي او په انتقالي دورو کې پوځونه چارې مخ ته وړي. دغه د مصر هغه ماډل دی چې په ۲۰۱۲م کې یې حسني مبارک څنډې ته کړ او پوځ واک په لاس کې واخیست. په دواړو هیوادونو کې مسلمانان باید خپل پاڅونونه په داسې توګه همږغي کړي، چې بهرني ځواکونه یا همدغه د دوی پوځونه چې د یادو بهرني ځواکونو د ګټو ساتونکي دي، په خپله ګټه ونه کاروي. دوی باید خپلو لاریونونو ته دوام ورکړي او د بشپړ نظام د بدلون لپاره کار وکړي. دوی باید د اسلامي نظام د واکمنېدو لپاره کار وکړي. په دغې لړۍ کې هره نیمګړتیا به دواړه هیوادونه د مصر او تونس په برخلیک اخته کړي.

په سوډان کې لا له وړاندې د عمر بشیر له ګوښه کېدو سره جوخت، خلکو د پوځ له ګمارل شویو څېرو سره مخالفت څرګند کړ. په الجزایر کې د خلکو اساسي غوښتنه د عبدالعزیز بوتفلیقه د پنځم ځل نوماندۍ او د لومړي وزیر احمد اویحیا ګوښه کېدل دي. سره له دې هم د الجزایر د خلکو غوښتنه له حکومت څخه واکمنې ډلې چې «لي پوور» یاني د ځواک څښتنان نومېږي، په بشپړه توګه ګوښه کول دي. که په اسلامي هیوادونو کې بنسټیز بدلون راغی، نو دا په دې مانا چې له لومړي عرب پسرلي څخه درس اخیستل شوی دی.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**
**لیکوال: عدنان خان**
**ژباړن: صدیق احمدزی**